Apprenticeships

# د شاګردۍ په اړه د والدینو لارښود

د مور یا پلار په توګه، تاسي غواړئ چې ستاسي ماشوم/ماشومه په خپل مسلک کې په احتمالي توګه تر ټولو غوره پیل وکړي. کله چې ځلمي کسان ښوونځی پریږدي، نو د هغوی لپاره یو شمیر انتخابونه موجود وي، او په دې لارښود کې، موږ د کامیاب مسلک د مرکزي وسیلې په توګه د شاګردۍ کولو په اړه معلومات او ګټې وړاندې کوو.

**شاګردي کول څه دي؟** دا یو حقیقي وظیفه وي، چې روزنه په کې هم ترلاسه کیږي، د دې معنی دا ده چې تاسي به عایدات ترلاسه کوئ، په داسې حال کې چې زده کړه به هم کوئ او دولتي تسلیم شوی لیاقت به هم ترلاسه کوئ.

## ګټې څه دي؟

شاګردي اوس د ډګرۍ د کچې او له دې څخه مخکې هم موجود ده. له 70 څخه زیات پوهنتونونه اوسمهال د مختلفو ډګریو لپاره د شاګردۍ وړاندیز کوي او لا نور به هم د کال په اوږدو کې تصدیق شي.

- تنخا ترلاسه کول او تادیه شوي رخصتی،
- د ښه پرمختګ فرصتونه، که مخکې زده کړه ترلاسه کول غواړئ، یا په خپله وظیفه کې اعلی مقام ته رسیدل غواړئ.
- په راتلونکې کې د زیاتو عایداتو امکان - شاګردان ټاکل شوي تنخا ترلاسه کوي چې د روزنې په بشپړولو په کې زیاتوالی راځي او هغه شاګردان چې په اعلی کچه یې شاګردي بشپړه کړې وي، په خپل ژوند کې تخمیناً تر 150,000 پونډو پورې په عوایدو کې زیاتوالی لیدلی شي.

## په دې کې کوم لیولونه دي؟

تاسې د بیلابیلو لیولونو د شاګردۍ لپاره عریضه کولی شئ، چې دا ستاسې په اوسني مهارتونو او لیاقتونو پورې تړاو لري. شاګردي د زده کړې ورته لیولونه لري:

| نوم | لیول | د زده کړې ورته لیول |
|---|---|---|
| مینځنۍ | 2 | 5 جي سي ایس ای په A* ګریډونو کې - سي یا 4-9 |
| پرمختللي | 3 | 2 A لیول پاس شوي |
| اعلی | 4, 5, 6 او 7 | فاونډیشن ډګرۍ او پورته |
| ډګري | 6 او 7 | بیچلر یا ماسټر ډګري |

د شاګردۍ په ټولو زده کړو کې د وظیفې او د وظیفې پرته د روزنې عنصرونه شامل وي چې دا د صنعت تسلیم شوي معیارونو یا لیاقتونو ته مخ پروړاندې ځي. د شاګردۍ په ځینې زده کړو کې د پروګرام په اخره کې ارزونې ته اړتیا وي چې د شاګرد د وظیفې په رول کې د وړتیا او پوهې ارزونه وکړل شي.

## زه به څنګه عریضه کوم؟

په یو وخت کې له 12000 څخه تر 20000 پورې د شاګردي تش ځایونه آنلاین په بیلابیل مسلکونو او صنعتونو کې په ټول انګلستان کې موجود وي. وګورئ **GOV.UK/apply-apprenticeship**. تاسي په مهم توري (د وظیفې رول، د وظیفې ډول یا د شاګردۍ لیول) او موقعیت سره لټون کولی شئ.

کله چې مناسب وظیفه څرګنده شي، ستاسې زوی یا لور په اسانۍ سره په دغه ویب سایټ راجسټر کیدی شي او ګام په ګام لارښوونې تعقیبولی شي څو د دغه رول لپاره عریضه وکړي.

زموږ د یوټیوب په چینل د عریضې کولو لپاره ګټه وړ مشورې او ټوټکې ورکړل شوې دي او له دې سره د شاګردۍ د زده کړو په اړه نورې ویډیوګانې موجود دي، یو ټیوب ته لاړ شئ او د "apprenticeships/NAS" (شاګردي/د ملي شاګردۍ خدمت) ولټوئ.

که هغوی د شاګردۍ یا وظیفې لپاره لا چمتو نه وي، هغوی کولای شي چې د محلي مستخدم سره د روزنې ترلاسه کولو کوشش وکړي چې ښه کاري تجربه ترلاسه کړي او که اړتیا وي، نو د خپلې انګلیسي او ریاضۍ ښه کولو فرصت ولري. د نورو معلوماتو یا د روزنې ترلاسه کولو د فرصتونو لپاره **GOV.UK/find-traineeship** وګورئ

تاسي ته وړاندې کیږي له اړخه د

**د شاګردۍ ملي خدمت**

## تنخاګانې

د شاګردانو لپاره لږ تر لږه تنخا په ساعت کې 3.70 پونډه ده، خو زیات مستخدمین له دې څخه زیاته تنخا هم ورکوي. دا په سکتور، ساحې او د شاګردۍ په لیول پورې تړاو لري د مثال په توګه، د شاګردۍ په ځینې اعلی زده کړو کې تر 500 پونډو پورې په یوه اونۍ کې ورکول کیږي.

د تنخاګانو او ځانګړي شاګردۍ په مسلکونو کې د داخلې د معیار په اړه نور جزیات د "Find an apprenticeship" (شاګردي ولټوئ) په برخه کې د خالي مسلکي ځایونو په کتلو سره ترلاسه کیدی شي.

## د داخلې شرایط

د شاګردۍ زده کړې د هغه ټولو کسانو لپاره موجود وي چې له 16 کالو څخه یې عمر زیات وي او په انګلستان کې اوسیږي. د سکتور او وظیفې پر اساس د داخلې بیلابیل شرایط دي.

ورستی قانون تطبیق شوی دی چې په هغې کې د لږ تر لږه انګلیسۍ او ریاضۍ اړتیاوې بدلې شوې دي، څو د هغه خلکو لپاره د شاګردۍ زده کړې بشپړې شي، چې په زده کړې کې مشکل یا معیوبیت لري. دغه بدلونونه به د انګلیسۍ او ریاضۍ اړتیاوې به د داخلې د لیول 3 د لیاقت لرونکي شاګردانو لپاره کمې کړي.

د معیوبیت معتمد مستخدم به عموماً هر تن ته د مرکې وړاندیز کوي هغه عارض، چې دا څرګنده کړي چې معیوبیت لري او د مستخدم له خوا پورته ورکړل شوي په لږ تر لږه معیار پوره کیږي. د نورو معلوماتو لپاره، په GOV.UK د Disability Confident برخه وګورئ.

## د ښوونځی پریښودلو عمر

دولت وایي چې ټول ځلمي کسان لږ تر لږه د خپل 18 مې زیزکلیزې پورې باید څه نه څه زده کړه یا روزنه ترلاسه کوي. د دې مطلب دا نه دی چې په ښوونځی کې دې وي، ځلمي کسان له 16 کلن کیدو وروسته په دې اړه انتخاب لري چې څنګه خپلې زده کړې یا روزنې ته دوام ورکوي، چې دا د شاګردۍ یا روزنې له لارې کیدی شي.

## په GOV.UK د "Apprenticeships" (شاګردۍ) زده کړې ولټوئ

*د پوهنتون زده کړه - آیا دا د استخدام لپاره تر ټولو غوره لار ده؟
AAT او CEBR فبروري 2013

NAS-P-170003 اپریل 2018